سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۰/۰۷/۲۶م

# د هند نفوذ: د پاکستان پلپسې پلمې

پاکستان، کابل کې د ملي مرکزي دولت د رامنځته کېدو د مخنيوي لپاره، بېلا بېلو پراوونو څخه تېر شوی او ډول ډول چلوټې يې په لار اچولي چې اوسنۍ هغه يې افغانستان کې د هند د نفوذ پلمه ده!

پاکستان يوخوا په هند کې د ځينو ناسيوناليستي کړيو له دې اندتوګې « طرز تفکر» څخه اندېښنه لري چې وايي پاکستان څه داسې هېواد نه دی چې تاريخ ولري بلکې د سيمې او هندوستان د نارامۍ په موخه، انګريزانو په ۱۹۴۷ کال د لوی هند له خاورې بېل کړی او د هند د خاورې يوه برخه ده او بلخوا د کشمير پر سر تل له هند سره په شخړه کې دی. همدارنګه پنجاب افغانستان سره هم د پښتونستان پر سر تاريخي بوخڅه لري (۱) او د بلوچيستان خپلواکۍ غورځنګ سره ابدي لاس وګريوان دی. ياني پاکستان لويديځ اړخ ته له افغانستان او په ختيځه پوله له هند سره په تلپاتې او ناعلاجه کړکېچ کې ښکېل دی!

د ستراتيژۍ او ژيوپوليتيک له مخې پاکستان سيمې ته د دايمي کړکېچ په موخه او پر افغانستان، هند او نورو هېوادو باندې د ګواښ او توپ د يوې تمبرې په توګه رامنځته شوی دی.

د کشمير پرسر هند سره مقابلې لپاره پاکستان تل، افغانستان ته د ستراتيژيک ژورغالي « عمق » پتوګه سترګې نيولې او د ډيورنډ تپلې کرښې د منلو او د پښتونستان د هضمولو لپاره په کابل کې د لاسپوڅي او ګوډاګي اداري په لټه کې بوخت پاتې شوی دی!

موږ بايد د پاکستان شپېته کلن تاريخ او د هغه راتلونکي همدغو اړتياوو ته په پام کې نيولو سره تر کتنې لاندې ولرو. پاکستان د ۱۹۹۲ کال مخکې، د افغانستان له ټولو دولتونو سره په دې پلمه بدې اړيکې درلودې چې ګويا افغانستان د پخواني شوروي تر اغيز لاندې دی! هغه مهال هم پاکستان د انګريز د ميراثخور پتوګه افغانستان د خپل نفوذ سيمه ګڼله. حال دا چې د بحث موضوع دا نه وه چې ايا افغانستان د شوروي تر اغيز لاندې و او يا کنه بلکې دا د افغان دولتونو او پخواني شوروي تر منځ خبره وه او پاکستان ته پکې د لاسوهنې هيڅ قانوني حق نه و تر لاسه!

دا چې د سړې جګړې پر مهال پاکستان ځانته دا حق ورکاوه چې د سينټو او سياټو په پوځي تړونونو کې ښکېل او تر پايه د لويديځ په پښو کې پريوتی وي، افغانستان هم حق درلود چې د يوه خپلواک او ناپېيلي هېواد پتوګه د پخواني شوروي په ګډون له هر هېواد سره چې زړه يې وغواړي اړيکې ټينګې او راکړه ورکړه ورسره ولري. خو پاکستان هغه مهال دې وسلې نه په کابل کې د مرکزي او ملي حکوتونو په کمزوري کولو کې زياته ګټه اخيستله.

ددې اړيکو پريکون د پاکستان لپاره لنګه غوا شوه. راځئ يوه بېلګه راواخلو، په ۹۰ ومو کلونو کې کله چې پاکستان کې روزل شوي جهادي تنظيمونه لکه ملخان پر کابل راپرېوتل، د شوروي ساخت ټول افغاني تاسيسات چې د هېواد ملي شتمني او بيت المال ګڼل کېدل لکه د جنګلک او ننګرهار کانال اوسپنې، د ملي اردو شوبلې، ټانکونه او الوتکې او د هېواد د اوسيدونکو شتمنۍ او ملکيتونه، يو په يو پاکستان ته يوړل شول او د پاکستان دولت دا ټول هغه هضم کړل!

د څو لسيزو لپاره پنجاب، د خپلواک افغانستان او پخواني شوروي ترمنځ اړيکې چې ېوازې يې په نومړو دوو هېوادو پورې اړه درلوده، د يوې پلمې پتوګه افغانستان سره د اړيکو د خرابتيا په موخه وکارولې!

همدارنګه د هند او افغانستان تاريخي او ښې اړيکې هم پاکستان نه شوې ليدلای! پاکستانی دغه ډرامه چې افغانستان ولې هند ته په جلال اباد او کندهار کې کونسلګرۍ ورکړي زوړ تاريخ لري او دلته هم پاکستان هر وار دې وسيلې نه د افغانستان او هند تر منځ د اړيکو د خړولو په موخه کار اخيستی دی.

دا چې اوس افغانستان غواړي د خپل هېواد په بيا ودانۍ کې چې د پاکستان چلوټو او يرغلونو په کندواله بدل کړی د هند په ګډون له هر هېواده مرسته واخلي د پاکستان په زړه نه ځايېږي ! . هند له ۲۰۰۱ کال روسته افغان دولت سره، څه لپاسه ۱۲۰۰ ميليونو ډالرو مرسته کړې، له دې کبله په پاکستان کې جوړ شوي ترهګر، افغانستان کې هندي ډاکټران، انجينران، کارګران او سوداګر په نښه کوي او له منځه يې وړي. دلته له پاکستانه پوښتنه کېږي که هند افغانستان ته ۱۲۰۰ ميليوه ډالر مرسته ورکوي، نو پاکستان چې يو خوا يې افغانستان ويجاړکړی او بلخوا ځانته د اسلام ټيکدار وايي ولې د اسلامي افغانستان سره له کافرهنده زياته مرسته نه کوي؟!

په افغانستان کې د ناټو او ايساف د ځواکونو شتون هم چې د ملګرو ملتو د پريکړو پر بنسټ، څه مهال لپاره افغانستان سره د مرستې په موخه راغلي، د پاکستان پر زړه نه ځايېږي. که چيرې د ناټو په ملاتړ افغان اردو چې د پاکستان او افغانستان د نورو دوښمنانو لخوا ړنګه شوې بېرته پر پښلو پښو دريږي د افغانستان په اړه د پاکستان له ستراتيژۍ سره ټکر کوي او دا هغه څه دی چې پاکستان يې ليونی کړی دی . پاکستان اوس د ترهګرو په مټ له ناټو سره ډغرې وهي او غواړي د ناټو ملاتړ له افغانستانه واخلي ترڅو خپلو تاريخي موخو ته ورسيږي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په خير و لولئ

په دې توګه د ناټو او ایساف پر وړاندې غوغا چې په ښکاره د ترهګرو په وسیله جوړه شوې تر شا یې پاکستاني واکمنان ځای لري!
نن سبا پاکستان، د افغانستان او پخواني شوروي او د افغانستان ـ ناټو او ایساف ترمنځ د اړیکو پر سر پلمې د افغانستان او هند ترمنځ د اړیکو پر سر پلمو ته انتقلوي او پنجاب پوهیږي چې دا ځل شمال له دیخوا لګیږي.
« پاکستان غواړي د حقاني له شبکې ګټه پورته کړي او هغه له ولسمشر کرزی سره د روغې جوړې خبرو ته کښینوي څو په دې ډول په افغانستان کې د هند د نفوذ مخه ونیسي. اسلام اباد دا اندیښنه لري چې د راتلونکي میلادي کال له جولای وروسته که چیرته امریکایي عسکر له افغانستانه وتل پیل کړي هند هلته خپل نفوذ زیات نه کړي. [2] »
دا چې پاکستان د کومو نړیوالو اصولو پر بنسټ ځانته حق ورکوي چې افغانستان کې د هند د راتلونکي احتمالي نفوذ د مخنیوي په پلمه د خپل هېواد دننه ترهګر وروزي او مخکې له مخکې یې په افغانستان کې ځای پرځای کړي د حیرانتیا او پوښتنې وړ خبره ده .
له بده مرغه د شپیته کلونو راهیسې د پاکستان په ای ایس ای او پوځي زیرمتون کې د افغانستان په وړاندې چلوټې کله په دې او کله په هغه پلمه جوړیږي او تر څو چې پاکستان شتون ولري دا لړۍ به همداسې جاري وي!
او زړه دردونکې دا ده چې دې غوغا زموږ ډېر ساده زړي افغانان تېرایستلي دي!

پای
*********

**څرګندوني :**
[1]**بوخڅه** : له بوختېدل کړنوم ( مصدر ) څخه اخیستل شوی، ستونځه، ربړه، کړاو، ښکېلتوب، کړکېچ، پریوتی، کېوتګ، کېوته
**اخځونه :**
[2] تاند بریښناپاڼه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ